# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|


بســــــــــــــــــمل

۰۸ – ۱۰ – ۲۰۱۰

## داکتوبر اوومه او دجدي شپږمې نېټې
## دواړه کرغېړنې او محکومې دي

**په ماګرانو خویندو او ورونو!**

پرون د اکتوبر اوومه هغه توره او کرغېړنه نېټه وه چې د تورې مانۍ سرتېمبه واکمنانو په ناحقه زموږ ګــران افغانستان تر ظالمانه بمباریولاندې ونیواوپه پرله پسې ډول موکړوي .
تر نن ورځې پورې یې لا په موږ خوارانو زړه سوړنه شوهمدا نن ورځ یې زموږ په ښکلي لویه پکتیا کې شپږ ۶ کسه قومي اربکي په یوه هوایي حمله کې ووژل هغه نورعادي وکړي خو هره ورځ د شکمن طالب او تروریست په نوم وژني .
دنوي استعمار ماهرینو دا ځل په داسې شرموونکې پلمه زموږ دسیمې داشغال لپاره هغه په اصطلاح لـه ملګرو ملتونو (دوزخونو) څخه دنا رواحملې اجازه واخیسته چې هم یې هغه خپله دډیموکراسي غلیزه تابلو دړې وړې کړه او هم یې دبشر په حقونو له حده زیات تېرې وکړل .
دریم لمبر شاه شجاع(کرزی) یې له خپلو سرو کربوړوسره له الوتکې څخه را نازل او تر نن ورځې یې په ډول



حرامزادګيو زمونږ دمظلوم ولس پر اوږو په داسې حال کې سپور ساتلی دی چې دلږکيو دړانده استبداد زېر زبېر چينجي هم ورسره په قدرت کې پاتـه او زمونږ ويـاړلی تـاريخي او افغاني برم تـه يې خورا زيـات زيانونـه ورسـول، ملـی يـووالی مـوددوی لـه لاسـه تـردې حده زيـانمن شـوچې اوس زمـونږ دګران هېواددتجزې خبرې ديوشمېرمنفورو او کم اصلو بهرنيو او کورنيوکسانو له خولې څخه را وزي .
داناخوالې اونـاورين چې نن يې دسر په سترګو وينوله هر څه دمخه دتېرونـهوکلونودښکېلاک زېږنده ده .
لکه څنګه مې چې پرون غرمه دآزادي راديود آزادي په څېو پروګرام کې داکتوبر اوومـه اودجدې شپږمه نېټه محکومه کړه همداسې نن بيا وايم چې د دې دواړو نېټو يرغلونـه نـارواو تـاريخ تـه محکوم دي لـه همدې کبله مې پرون ورځ دنښتر او سولې ويبلاګونو په خپرونو داحتجاج په ډول دماتم توره پرده غوړولې وه .
زمـونږ هر يـو دوسـت او دښمن دې پـه دې بانـدې سم سر خـلاص کـړي چـې افغانـستان د خپـل ځـانګړي جغرافعوي موقعيت او اراضي لرونکی، دباتورو او خپلواکي خوښوونکو هېوادوالو ټاټوبی دی ځکه خو پېړی په پېړی نه دلته تل پاتې سوله راغله او نه خو کوم يرغلګر دلته ځان ټينګ کړ.
د روسانو اهداف خو د هغوی له يو شمېرکرغېړنو څېرو سره په داسې حال کې تر خاورو لاندې شول چې آن هغه خپل شوروي اتحاد يې ورسره بغری بغری شو خو له بده مرغه چې دتورې مانۍ کبرجنو کفن کښانو لـه پخواني کفنکښ څخه هيڅ عبرت وانه خيست .
په مونږ يې څه چې هغه زاړه برجونه دوی پخپله ونـه ړول او که د دوی يار اسامه دا غچ يې ولې لـه مونږ بېګناهو افغانانو څخه اخلي؟
دشرمېدو خبره خو يې لا دا ده چې راغلي داسامه په پلمه وو خو لا د هغه پته مالومه نـه وه چې په عراق يې هم حمله وکړه دطالبانو که له اسامه سره اړيکې وې کـه نـه وې خو صدام لـه اسامه سره هيڅ ډول اړيکې او خواخوږي نه لرله که بيا دوی وايي چې صدام ديکتـاتور او پـه ولس يې ظلم کـاوه نـو دادوی بيا په ابوالغرايب کې څومره جنايتونه وکړل او همدا راز تر نن ورځې پـه عراق کې دځانمرګو پـه پلمـه عام وژنـې رواني چې دا لړۍ آن تر کراچۍ پورې ورسېده .
رابه شو خپل ملک ته دلته خو يې دځانمرګومارکټونه جوړ کړي نن پـه افغانستان کې ځانمرګي داسې خرڅېږي لکه لاسي بمونه اوکاړتوس همدا نن نن يې دکندوز والي څنګه والوزاوه ؟
پـه هـر صـورت راځـم دې تـه چـې کـه دامريکـا اوانګرېـز سـپين سترګي،سـرټمبګي او دلږکيولـه جنګـي جنايتکارانو څخه ملاتړ په دې ډول روان وي لکه دااوس چې دی نوپايلې به يې دومره دردوونکې وي چې زمـونږ دسيمې د ولـسونو د صبر کاسـه بـه را ډکـه او دبشر راتلـونکې بـه د دريمـې نړيوالې جګړې (اتـومي جګړې) له را رسېدو سره پای ته ورسيږي .
خو که دنړۍ په مخ سالم اومخورکسان د ننيوکبرجنو او ړندوسياستوالو سترګې ورخلاصې او مشروع معاملو ته يې چمتو کړي بيا کېدای شي چې هم ولسونه په ســــوله کې ژوند وکړي او هم هر اړخېزې ګټې سره ووېشي .

## دګــران افغانسـتان دخپلواکي په هيــله